CAAELP
Connecticut Alternate Assessment of English Language Proficiency



# د **ALT ELPA** راپورونو لپاره
**د والدينو لارښود**

## زما ماشوم د
## **ALT ELPA** په لنډيز کې سړ کال څنګه فعاليت وکړ؟

**د انګليسي ژبې د مهارت بديلې ارزونې (Alt ELPA) کې له ګډون کولو څخه وروسته به ستاسو ماشوم د مهارت مشخص کولو سره او د عددي مقياس نمرو له درې ډولونو سره** د زده کوونکو انفرادي راپور **(ISR) ترلاسه کړي.** دا لارښود به د مهارت مشخص کول او د عددي مقياس نمرې تشريح کړي او د ژبې د ملاتړونو د ډول په اړه به هغه لارښوونه چمتو کړي چې ستاسو ماشوم به ورته راتلونکي کال کې اړتيا ولري.

### د مهارت مشخص کول
لاندې صندوق د انګليسي ژبې د مهارت هره کچه تشريح کوي—دا ستاسو د ماشوم د مهارت مشخص کول دي. دا نمرې د نمرو د عمومي مقياس، چې لاندې تشريح شوې دي، او ستاسو د ماشوم د ټولګي د کچې پر بنسټ دي.

**د مهارت مشخص کول**

**ماهر** – زده کوونکي د انګليسي ژبې د مهارت يوه کچه څرګندوي چې د ELP په بديلو معيارونو کې منعکس شوي وي چې بشپړ ګډون کول يا له ټولګي له کچې سره مناسبو فعاليتونو کې يوازې د لږو محدوديتونو ګډون کول چې په بديلو اکاډميکو معيارونو کې منعکس شوي وي، ممکن کوي. دا په Alt ELPA کې په ټولو موډلېټونو کې د 3 کچې يا لوړې کچې په ترلاسه کولو سره ښودل کېږي. په Alt ELPA کې د ماهر کېدو پرمهال، زده کوونکی بايي د بيا طبقه بندۍ لپاره په پام کې ونيول شي.

**پرمختګ کوونکی** - زده کوونکي د انګليسي ژبې د مهارت يوه کچه څرګندوي چې د ELP په بديلو معيارونو کې منعکس شوي وي او په متوسط ډول سره د ټولګي له کچې سره مناسبو فعاليتونو کې ګډون کول محدودوي چې په بديلو اکاډميکو معيارونو کې منعکس شوي وي. دا په Alt ELPA کې لږ تر لږه په يو موډلېټ کې د پورته 1 کچې او لاندې 3 کچې په ترلاسه کولو سره ښودل کېږي. کوم زده کوونکي چې په Alt ELPA کې د پرمختګ نمرې ترلاسه کوي د پروګرام د روان ملاتړ په شرايطو برابر دي.

**راڅرګنديدونکی** – زده کوونکي د انګليسي ژبې د مهارت يوه کچه څرګندوي چې د ELPپه بديلو معيارونو کې منعکس شوي وي او د ټولګي له کچې سره مناسبو فعاليتونو کې ګډون کول چې په بديلو اکاډميکو معيارونو کې منعکس شوي وي، په پام وړ کچې سره محدودوي. دا په ټولو موډلېټونو کې په Alt ELPA کې د 1 کچې په ترلاسه کولو سره ښودل کېږي. کوم زده کوونکي چې په Alt ELPA کې راڅرګنديدونکي نمرې ترلاسه کوي د پروګرام د روان ملاتړ په شرايطو برابر دي.

### د عمومي مقياس نمرې
**د عمومي مقياس نمرې:** 150

دا 3-رقمي نمرې د دې پر بنسټ چې ستاسو ماشوم په Alt ELPA کې په عمومي ډول سره څومره ښه فعاليت ترسره کړی دی، محاسبه کېږي. په محاسبې کې د څلور واړه ډومېنونو (خبرې کول، ليکل، اورېدل، لوستل) د فعاليت پايلې شاملې دي. که چېرې ستاسو ماشوم له کوم ډومين څخه معاف شوي وي، د عمومي مقياس نمرې يوازې د هغو ډومېنونو پر بنسټ محاسبه کوم چې ستاسو ماشوم ته ځانګړي شوي دي.

### د درک د مقياس نمرې
**د درک د مقياس نمرې:** 165

د درک د مقياس نمرې د عمومي مقياس نمرو څخه وروسته د زده کوونکو په انفرادي راپور کې موندل کېږي. دا هم د 3-رقمي مقياس نمرې دي. دا څرګندوي چې ستاسو ماشوم د Alt ELPA د اورېدلو او لوستلو په ډومېنونو کې د خپل فعاليت پر بنسټ په انګليسي باندې څومره ښه پوهيږي. که چېرې ستاسو ماشوم د درک کولو له يو ډومين (اورېدل او لوستل) څخه معاف شوي وي، نمرې يوازې له هغو ډومېنونو څخه محاسبه کېږي کوم چې ستاسو ماشوم ته ځانګړې شوي وي.

### دا پايلې څنګه کارول کېدلی شي؟

دا پايلې به له نورو مالوماتو سره يو ځای وکارول شي، ترڅو ښوونکو سره د هغو زده کوونکو په پېژندلو کې مرسته وکړي چې د ژبې په هرې برخې کې اضافي مرستې ته اړتيا لري. انفرادي زده کوونکو لپاره د موډلېټ او ډومين نمرې ښايي د ځواکمنتيا ساحې او د اضافي ملاتړ/ښوونې ته اړتيا لرونکې ساحې وړانديز کړي او د ښوونې لارښوونې لپاره به اضافي مالومات چمتو کړي. دا مالومات به د دې اندازه کولو لپاره هم وکارول شي چې ښوونځي او د ښوونځي سيستمونه د انګليسي هغو زده کوونکو سره چې تر ټولو څرګند ادراکي معلوليتونه لري څومره ښه مرسته کوي چې لوړ توقعات ترلاسه کړي.

### د موډلېټ/ډومين د مقياس نمرې
لاندې چارټ څرګندوي چې د فعاليت هره کچه له دې پلوه څه معنی لري چې ستاسو ماشوم د نوموړي ټولګي او ډومين (اورېدل، لوستل، خبرې کول، ليکل) توقعات په څومره ښه ډول سره پوره کړي دي. نمرې د موډلېټ (توليدي = خبرې کول او ليکل، موندونکي = اورېدل او لوستل) له پلوه هم تشريح کېږي. د فعاليت د کچې شرحه هر موډلېټ او هغه فعاليت چې ستاسو ماشوم څخه يې تمه کېږي، د Alt ELPA د پايلو پر بنسټ تشريح کوي.

په څلور واړه ډومینونو کې، د فعالیت څلور کچې (1–4) شتون لري.

1 ابتدايي 2 منځني 3 لوړمني پرمختللي 4 پرمختللي

| موډلیت/ډومین | د مقیاس نمرې | فعالیت | د فعالیت د کچې شرحه |
|---|---|---|---|
| 1. موډلیت: تولید (خبرې کول او لیکل) | 40 | 4 | 4 تولیدي کچه: تولیدي موډلیت په خبرو کولو او لیکلو کې د انګلیسي ژبې فعالیت اندازه کوي. د 4 کچې زده کونکي تولیدي فعالیت څرګندوي چې د بدیل ELP په معیارونو کې منعکس شوي وي چې له اړونده کچې سره مناسبو د ټولګي فعالیتونو کې چې په بدیلو اکاډمیکو معیارونو کې منعکس شوي وي، بشپړ ګډون کولو ته لاره هواروي. |
| a1. ډومین: خبرې کول | 50 | 4 | له خپلواکه کنټرول، اشارې ورکولو، او ملاتړ سره د 4 کچې زده کونکي کولای شي:<br>• لنډ پریزینټیشنونه یا مالومات (د بېلګې په توګه د آشنا او ناول موضوعاتو، کیسو، تجربو، یا پېښو په اړه) وړاندې کړي<br>• د یوې آشنا موضوع یا کیسې په اړه د مالوماتو د ملاتړ یا یوې ترجیح لپاره یو څو دلایل چمتو کړي<br>• د ټولنیزو او اکاډمیکو شرایطو (د بېلګې په توګه د لوبو ډګر، ټولګی) لپاره د کلماتو، غږونو، څرګندونو، او حرکاتو د ډېریدونکی شمېر کارول،<br>• په لنډو خبرو اترو کې ګډون کول |
| b1. ډومین: لیکل | 70 | 4 | له خپلواکه کنټرول، اشارې ورکولو، او ملاتړ سره د 4 کچې زده کونکي کولای شي:<br>• د آشنا متنونو، موضوعاتو، تجربو، یا پېښو په اړه د لیکلي متن کمپوز کول<br>• د آشنا او ناول موضوعاتو په اړه د مالوماتو د ملاتړ کولو لپاره د یو څو دلایلو چمتو کول<br>• د ټولنیزو او اکاډمیکو شرایطو (د بېلګې په توګه د لوبو ډګر، ټولګی) لپاره د کلماتو، غږونو، څرګندونو، او حرکاتو د ډېریدونکی شمېر کارول،<br>• د نظرونو یا مالوماتو د تبادلې لپاره ساده پوښتنې وپوښتئ او ځواب ورکړئ، یا پوهیدو لپاره وضاحت ورکړئ |
| 2. موډلیت: موندونکي (اوریدل او لوستل) | 60 | 4 | 4 موندونکې کچه: موندونکی موډل د اوریدلو او لوستلو په برخو کې د انګلیسي ژبې فعالیت اندازه کوي. د 4 کچې زده کونکي موندونکی فعالیت څرګندوي چې د ELP په بدیلو معیارونو کې منعکس شوي وي چې له اړونده کچې سره مناسبو د ټولګي مناسبو فعالیتونو کې چې په بدیلو اکاډمیکو معیارونو کې منعکس شوي وي، بشپړ ګډون کولو ته لاره هواروي. |
| a2. ډومین: اوریدل | 80 | 4 | د 4 کچې زده کونکي معمولاً د لاندې مواردو پواسطه درک کول څرګندوي:<br>• په لوړ غږ لوستلو او یا شفاهي پریزینټیشنونو څخه د اصلي مطلب یا موضوع مشخص کول<br>• د ځینو هغو جزئیاتو مشخص کول په لوړ غږ سره لوستلو او یا شفاهي پریزینټېشنونو څخه اصلي مطلب یا موضوع ملاتړ کوي<br>• په لوړ غږ سره لوستلو او شفاهي پریزینټېشنونو څخه د یوې کیسې د برخو بیا ویل<br>• د مختلفو موضوعاتو، تجربو، یا پېښو په اړه د عمومي اکاډمیکو او محتویاتو ته ځانګړو شوو کلماتو د وده کونکي شمېر او د څرګندونو د ډېریدونکي شمېر د معنې مشخص کول |
| b2. ډومین: لوستل | 90 | 4 | د 4 کچې زده کونکي معمولاً د لاندې مواردو پواسطه درک کول څرګندوي:<br>• له ساده لیکلو متنونو څخه د اصلي مطلب معلومول<br>• د ځینو هغو جزئیاتو مشخص کول چې په ساده لیکلو متنونو کې اصلي مطلب یا موضوع ملاتړ کوي<br>• له ساده لیکلو متنونو څخه د یوې کیسې د برخو بیاویل<br>• د مختلفو موضوعاتو، تجربو، یا پېښو په اړه متنونو کې د عمومي اکاډمیکو او محتویاتو ته ځانګړو شوو کلماتو د وده کونکي شمېر او د څرګندونو د ډېریدونکي شمېر د معنې مشخص کول |

د یو والد په توګه، تاسو کولای شئ چې د خپل ماشوم له ښوونکي(ښوونکو) سره د اضافي ملاتړونو په اړه د بحث لپاره چې ښايي په ټولګي او کور کې اړین وي، د ازموینې پایلې وکاروئ.



**پوښتنې کولو لپاره ځینې وړاندیز شوې پوښتنې په لاندې ډول دي، کله چې د خپل ماشوم له ښوونکي(ښوونکو) سره د پایلو په اړه بحث کول:**

- زما ماشوم چېرې ښه فعالیت ترسره کوي، او هغه چېرې اصلاح ته اړتیا لري؟
- زما د ماشوم د کمزورتیا د ساحې(ساحو) په اصلاح کې د مرستې لپاره په ټولګي کې څه ترسره کېدلی شي؟
- په هغو ساحو کې چېرې چې زما ماشوم د مهارت څرګندولو ته نژدې وي، زما د ماشوم د ننګولو لپاره په مناسب ډول سره څه ترسره کېدلی شي؟
- زه په کور کې د خپل ماشوم د ژبې د زده کړې په ملاتړ کې څنګه مرسته کولای شم؟
- نور څنګه داډ ترلاسه کوو چې زما ماشوم پرمختګ ته ادامه ورکوي؟

CAAELP Connecticut Alternate Assessment of English Language Proficiency

د کالیفورنیا پوهنتون©د 2023 کال له رئیسانو څخه اقتباس شوی دی

Alt ELPA Alternate English Language Proficiency Assessment